<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

په لبنان کې به شته فاسد دولت او د هغه د حکامو تر واک لاندې هېڅ عدالت نه وي!



(ژباړه)

تېره ورځ د نازیح حمود په نامه ځوان، قاتل د ۱.۰۵ مېلیونه لیرو نغدې جریمې له ورکولو وروسته له بند څخه خوشې شو. دا په داسې حال کې ده، چې ددغه هېواد لومړي وزیر ژمنه کړې وه، چې قاتل ته به جزا ورکوي. نو د یوه بې گناه مسلمان د وژلو جزا یوازې پنځه میاشتې زندان دی؟!

موږ تر اوسه نه ده هېره کړې، چې د التقوی او السلام په نامه دوو جوماتونو کې یې د چاودنو له عاملینو سره څنگه معامله وکړه، ترڅو د سماحه او لحد په نمونو د استخباراتي ماموړانو په جزا کې کمښت راولي.

مسلمان بندیان د ظالمو حکمتونو د ظلم او تیارو د زندان په کنج کې په کلونو کلونو هېر شوي دي، په داسې حال کې چې د مخدره توکو قاچاق وړونکي، کروندگر او سړي تښتوونکي، چې شمېر یې سلگونو ته رسېږي، تر اوسه حتی نیول شوي هم نه دي. کله به چې دولتي چارواکو غوښتل د هغوی د نیولو لپاره امنیتي طرحه جوړه کړي، طرحه یې په عادي توگه خنثی کېده او دولت به اعلان کاوه چې سرغړوونکو توبه وکړه!! اوس دولت وایي: «په لبنان کې هېڅ بې عدالتي نشته ده.»

او موږ یې په ځواب کې وایو: «له ټولو بې عدالتیو سره سره، بیا هم ټول ظلم او بې عدالتۍ یوازې پر بې گناه مسلمان بچیو تپل کېږي؛ خو نور مجرمان له قانون څخه لوړ دي او د هغو فاسدو په حفاظت کې دي، چې دغه دولت رهبري کوي.»

«دوه‌گونې ستندرده» پالیسي په ټوله مانا سره موږ ته ښکاره ده. مسلمانان د هېواد اکثریت و او اوس هم دي، خو که وغواړي دغه خواري او سپکاوی پای ته ورسوي، دوی د قسم خوړلو رهبرانو له دروغجنو وعدو سره مخ کېږي.

نو ځکه زموږ ټول امید یوازې الله سبحانه وتعالی دی، چې موږ ددغو نظامونو له شر او بې عدالتیو څخه خلاص کړي، اسلامي امت فکري بیداری ته ورسوي او حق ته په رسېدو کې مو ملاتړ وکړي او هغه عدالت د مسلمانانو په خاورو کې حاکم کړي چې د الله تعالی له لوري پر موږ نازل شوی دی.


شیخ ډاکتر محمد ابراهیم

د حزب التحریر ـ ولایه لبنان د مطبوعاتي دفتر رئیس



دصدور گڼه: H.T.L ۰۱/۱۴۴۰

۱۴۴۰هـ.ق، د صفر ۳مه

۲۰۱۸م، د اکتوبر ۱۲مه